239

کابل پوهنتون

دمحصلانوچارو معاونیت

د محصلانو د خدماتو او همغږۍ آمریت

# د محصلانو کمیټه

کال: ۱۴۰۴ لمریز

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلات والسلام علی رسوله الکريم وعلی اله واصحابه اجمعين.

**اساس:**

دمحصلانو کمیټه دکابل پوهنتون دعلمي شورا د ( ۳ ) - ۳ / ۴ / ۱۴۴۷ هـ ق نېټه پروتوکول په اساس جوړه شوه.

**دکمیټې جوړښت:**

دمحصلانو کمیټه دکابل په پوهنتون کې په اته ویشت اعضأوو مشتمله ده چې یورئیس او یومنشي لري،چې دکمیټې رئیس دکابل پوهنتون دمحصلانو چارو مرستیال دی اومنشي یې دمحصلانو دخدمتونو اوهمغږۍ امر دی.پاتې نورې اعضأ یې دکابل پوهنتون ددوه ویشت پوهنځیو محصیلن دي چې دهر پوهنځي په نمایندګۍ په کمیټه کې یو محصل شتون لري.

**اهداف:**

دپوهنتون په سطحه دمحصلانو نمایندګي کول.

دپوهنتون په سطحه دمحصلانو ستونزې راټولول او دپوهنتون درهبرۍ سره یې شریکول.

دپوهنتون په سطحه دمحصلانو ضرورتونه په نښه کول اودپوهنتون درهبرۍ سره داجراتو په پار شریکول.

دیوتعداد برنامویه دایرولوکې دمحصلانو دانسجام په برخه کې دمحصلانو دخدمتونو اوهمغږۍ امریت سره همکاري کول.

وخت په وخت دمحصلانو دچارو دښه والي په موخه جلسات دایرول او ګذارش یې دپوهنتون دریاست مقام سره شریکول.

دمحصلانو دکمیټې لایحه وظایف:

1. د محصلانو د کمیټې غونډې په منظم ډول دایرول.
2. د پوهنتون رهبرۍ ته میاشتني، ربعوار او کلني راپورونه وړاندې کول.
3. د پوهنتون په کچه د خدماتو په برخه کې د محصلانو خانګړې ستونزې راټولول او اړوند حل لارې د پوهنتون د رهبرۍ سره شریکول.
4. د کمیټې له خوا د محصلانو مدیریت او انسجام، تر څو هغوی په فعال ډول د پوهنتون په علمي او فرهنګي پروګرامونو کې ګډون وکړي، پرته له دې چې د هغوی په درسي فعالیتونو کې اخلال رامنځته شي.
5. د محصلانو نوښتونه، طرحې او پیشنهادات راټولول، تحلیلول او د اجرا لپاره د اړوندو برخو سره شریکول.
6. د محصلانو د ظرفیت او مهارتونو د لوړولو لپاره د مختلفو علمي پروګرامونو د اړتیا او د هغوی د معرفي کولو په اړه اړتیا سنجي او پریکړې کول
7. د محصلانو د انسجام د آمریت پروګرامونو په اړه د محصلانو نظرونه راجمع کول، تجزیه او تحلیلول، او دمحصلانو چارو معاونیت سره دبهبود لپاره شریکول.
8. د محصلانو لپاره د سمینارونو دایرول د محصلانو په همکارۍ او د انسجام د امریت په ملاتړ.
9. د پوهنتون د ریاست او د محصلانو چارو د مرستیال سره د غونډو تنظیمول، ترڅو د محصلانو ستونزې او نظریات په مؤثره توګه مطرح او حل شي.
10. محصلانو ته دعالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله تعالی د فرامینو او دنظام دپالیسیو په اړه آګاهي ورکول.

پورته لایحه دمحصلانو دکمیټې دچارو دتنظیم اوترتیب په پارجوړه شوه چې دپوهنتون دعلمي شورا اوریاست له تائیدۍ وروسته دتطبیق وړده.

ترتیب کوونکی (                                    )

دمحصلینو چارو معاونیت (                                    )

دا پالیسي د علمي شورا د ( ۱۴۰۴/۴/۳۱ ) نیټې غونډې د ( ۴ ) پروتوکول په پرېکړه کې تایید شوه.

دکابل پوهنتون ریاست (                                    )